AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۴/۰۹/۱۲

# یولیک، څو پوښتنې

مېرمن رینا امیري سلام.
روغه اوسې.
خبر شوم، چې په البانیا کې دې څه مېرمنې درغوښتي، چې د « افغان مېرمنو» په اړه خبرې وکړئ. ښه خبره ده، خدای دې د خیر غونډه کړي.
ځو میاشتېکم درې کاله کیږي، چې د افغان مېرمنو لپاره د نړۍ د تر ټولو لوی زبرځواک استازې ټاکل شوې یې. ستا په هېواد ( د امریکې متحده ایالات) کې د مدیریتي ارزوني یو اصل دا دی، چې د ماموریت پایلي ته کتل کیږي، چې په شته وضعیت کې یې څومره بدلون راوستلی دی، نه پروسې ته. یعني ستا د ماموریت په بهیر کې چې تا څومره غونډې جوړې کړي، مېلمسیتاوې دې کړې، وېناوې دې اورولي، کاغذونه دې تور کړي، سفرونه دې کړي او پیسې دې لګولي... ښایي د افغان مېرمنو په وضعیت کې څه مثبت بدلون راغلی وای. خو چې ګورو، افغان مېرمنې اول له پوهنتونه، بیا له ښوونځي، روسته له کار و پارک ته تللو، همداسې پسې له کوره راوتلو او مخ ښکارولو راوګرځول شوې، همدا دوه درې اونۍ مخکې یې غږ اورېدل هم حرام او عورت وګڼل شو. په سلګونو بندیانې یا ووژل شوې، میلیونونه تبعید شوې، میلیونونه وږې و نهار و وزګارې دي، د مور و ماشوم د مړینې کچ تر هربل وخته لوړ دی، زرګونه یې د ځلورمې و درېیمې مېرمنې په حیث په زوره یا له ولږې واده کړلای شوې، ځینې یې د وچې ډوډۍ په بدل کې وپلورل شوې... او کیسه لا همداسې روانه ده، ستا د کار او درې کلن ماموریت پایله څه ده؟
د امریکایي مدیریت له اصولو سره سم ته پخپله خپل ماموریت ( د نتایجو له مخې) څنګه ارزوې؟
راځه، ځو شیبې له امریکایي‌توبه راووځه، ماموریت دې هېر کړه، سیاست یوې خوا ته پرېږده، یوازې یوه عادي انسانه شه، یوه ښځه. ببرته خپلې ځلورکلنۍ ته ولاړه شه، چې له افغانستان څخه ووتلې او د خپلو خوبونو زمکې (امریکا) ته ورسېدلې... هغه مهال دې میلیونونه همزولې په پلرني هېواد کې پاتې شوې. له خپل سیاست و ماموریت لرې، خپلې ښځینه عاطفې ته ورننوځه او ویې‌سنجوه، چې ستا پر هغو همزولو څه پېښ شول؟ او څه روان دي؟
له تا سره د هغوی توپیر دا و، چې هغه مهال یې له وطنه د وتلو لاروچار نه لرله او که نه ښایي ډېرې به یې اوس ستا په شان نړیوالې څېرې وای.
ښایي ساده یې په امریکایي منطق راځواب کړې، چې: په سیاست کې عاطفه و اخلاق نه‌شته، یوازې ګټې او زور مطرح دي.

**ریښتیا، یوه پوښتنه:**

له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۸ پورې افغان ښځې یوه خوا او له ۲۰۲۰ څخه تر نن پورې افغان ښځې بله خوا؛ د دې دوه تاریخي دورو د ښځو ترمنځ توپیر څه دی؟
هغه مهال مو د افغان ښځو حقونه ولې د هرې بدلې سر وو او اوس مو تولې د دوزخ تاترین ته ورټېل وهلې؟
« نه بدان شوري شوري نه بدین بې‌نمکي»
د اوباما د واکمنې پرمهال، چې ته یې هم د بهرنیو چارو د وزارت ماموره وې، تاسو په افغانستان کې د ځو لویو بشري پروژو کار د دې لپاره ځنډولی و، چې ګواکې د افغانستان جمهوري دولت باید په څه اداري برخو کې د ښځینه کادرونو فیصدي لوړه کړي، فشار مو دا و چې باید د امنیتي سکتور تر رهبرۍ پورې ښځې حضور ولري، هغه څه چې د افغانستان په دوديزه ټولنه کې یې خلک حیران کړي وو او د امنیتي - پوځي ارګانونو په معینیتونو کې یې د بې‌تجربه پېغلو حضور د مخالفانو د تکفیري تبلیغاتو تبر ته لاسته ورکاوه.
څه پېښ شول؟ چې هماغه ښځې مو په ۲۰۲۰ کې رسماً داسې دلې ته وروسپارلې، چې تر ټولو لوړ فکري مبلغ یې وایي: « ښځې ته ښه مړی ورکوه، کالی ورکوه او نوره یې راځملوه!»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دغه مبلغ او لښکر یې هم له هغو شپېتو زرو مدرسو څخه راغلي، چي ستا د سرې جګړې پر مهال په پاکیستان کي پرانیستل شوې.
ستاسو سیاسي مجبوریتونه شاربل دي پوښتني ته ځواب ویلای نهشي. سپینه یې ووایه، چي هاغه سیاست غلط و، که ننني سیاست مو غلط دی؟ هغه مهال مو دروږغ ویل که نن؟
پر افغانستان واکمنه ډله مدعي ده، چي ۹۹ فیصده غړي یې د ښځمنو د کار و زدکړې پلویان دي. دوی وایي هغه یو فیصد مخالفان یې هم موږ نه پېژنو چي څوک دي؟ خو په عمل کي ښوونځي و پوهنځي و کارځایونه ټول د ښځمنو په مخ تړلي دي. ته دي اسناد و ګوره چي دا یو زورور فیصد رېښتیا څوک دي؟
داسي خو به نه وي، چي دا یو فیصد کوم بهرنی زورور وي؟
ته وګوره چي ستا همکار او د «استازي» لیکوال خو به د دوحې په پټو ضمیمو کي په دې اړه څه نهوي راوړي؟
ته په څلورکلنی کي له افغانستان څخه وتلي یې. ستا د وتلو کال د افغانستان د ټولنیز ثبات او فرهنګي اعتدال د اوج کلونه وو، لومړنی جمهوریت جوړ شوی و. د ښځو وضعیت په طبیعي توګه مخ په ښهکېدو و، نه په کي افراط و نه تفریط. په ښارونو کي ښځو زدکړې وکار کاوه، په کندهار و بدخشان کي د نجونو ممتازې لیسې فعالي وې، د سپورت ټیمونه یې لرل. د ښځینه معارف نهضت کلیو ته په ورپراخېدو و. افغانستان د اعتدال وطن و. نه ستا د ماموریت او شل کلن حضور د وخت په شان د ښځو د حقونو تصنعي نغارې ډنګېدې او نه هم د اوسمهال په شان د افغانانو ژوند ډېرپېر ته وړل شوی وو، هرڅه پرځپل ځای وو.
اوس چي د البانیا په کوم ډېر لوکس هوټل کي سره راجرګه شوي یاست او په تبعید کي مو یو شمېر افغان مېرمني راټولي کړې دي، رېښتیا ووایه، چي کومه داسي پټه معما ده، چي راز یې معلوموې؟ ایا رېښتیا د امریکا متحده ایالات نه پوهیږي، چي افغان مېرمني په څه حالت کي دي؟ ایا حللاره له بېچاره تبعیدشویو او ځپلشویو افغان مېرمنو څخه پوښتئ؟
کله چي د خپل دغه سفر د لګښتونو راپور اړونده مراجعو ته وړاندې کوې، دا درڅخه پوښتي، چي پایله یې څه وه؟ ستا د تېرو څومیاشتو کم درې کاله ماموریت د لګښتونو او منډو رامنډو یو وېښته مثبت اغېز رابښوولای شې؟ چي د هېوادمپشتو شاوخوا شل میلیونو ښځمنو د اوښکو وچولو لپاره یې لرلای وي؟
زبرځواکونه د زور ترڅنګ نړیوال اعتبار ته هم جدي اړتیا لري، که زما دغه ساده پوښتني بېځوابه پاتي شي، نو تاسو به خپل نړیوال اعتبار څنګه وساتئ؟
یوازې په زور؟
ځکه په نړۍ کي هغه خلک چي داسي پوښتني ورسره شته، کم نه دي.
د مصر و روم افسانوي شاهمېرمن کلیوپاترا ته منسوبه خبره ده، چي ویل یې: ښځي په سیاست کي دوه وسلي لري، توره او عاطفه. ډېره ځله یې دویمه وسله تر لومړۍ هغې اغېزناکه وي.
د توري له زوره خو مو خبر یو، خو په دې نهپوهیږو، چي ستا عاطفه رېښتیا څه وایي؟
یوه ورځ دي وویل:
«پر افغانستان واکمني ډلي ته د امریکا د صبر کاسه په ډکېدو ده!»
په هماغه ورځ ستا د هېواد یوه لوړپوړي ویاند وویل: « موږ نړۍ هڅوو، چي په افغانستان کي له واکمني ډلي سره تعامل زیات کړي.» دا تناقض به بېشک د اوسمهالي موډېرن ستراتیژیک سیاست ښکارندوی وي، خو زما پوښتنه دا ده، چي په افغانستان کي د هغې معصومي نجلی اوښکو ته ځواب ویلای شي، چي هم وږې ده، هم تږې خو ښوونځی غواړي او که ښوونځی یې همداسي بند وي، ښایي د کوم شیخ څلورمه ښځه به شي؟
ته څه فکر کوې؟
دا مه ګڼه، چي افغانان د خپلو ښځو لپاره حقونه له تا څخه غواړي او یا یې ستا په مرسته غواړي.
نه! هیځکله نه! ابداً !
«ما را زخیر تو امیدی نیست، شر مرسان!»
ځکه، هغه مهال (۱۹۱۹) چي په افغانستان کي د ښځو نهضت پیل شوی و، په امریکا کي لا مدني حقونه او ټولنیز اصلاحات په خاپوړو وو.
موږ د افغان نجونو او مېرمنو ژوند او حقونه ستاسو د پېچلیو لوبو قرباني بولو، اصلي پوښتنه دا ده، چي دا لوبې پای لري او که نه؟
ځکه له افغان ښځو څخه هرڅه په ۲۰۲۰ کي د دوحې تړون واخیستل، نه بل چا.
زه تمه نهلرم، چي دا لیک دي تر تا دوررسیږي، او یا که دوررسیږي هم ته به یې ولولې، یا به کوم اهمیت ورکړې.
زه غواړم، دا لیک د افغانستان خلک، په تېره ځوربدلي افغان مېرمني ولولي، چي د راټپل شوي افراط و تفریط قربانیاني دي.
غواړم افغان مېرمني پوه شي، چي پردۍ پروژې، ډونران، لوکس هوټلونه، غونډې، NGO ګاني او امریکایي مدیریتونه دغسي پایلي لري، لکه چي ومو لیدلې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

غوارم افغان مېرمنې پوه شي، چې د دوی حقونه د دوحې تړون ورځخه تروړلي او د اغلې رينا اميري واکمني اوس هم د افغان مېرمنو له جلادانو سره پر نړيوال تعامل ټينګار کوي.
«ګس نخارد پشت من، جز ناخن انګشت من»
که پخپله په يوه ملي ځواک بدلېدلای شو، ځان به وژغورو او که نه ستر خوشال خو پخوا لا ويلي وو:

**هم مې ووژني پخپله، هم په ما باندې ژړا کا**
**څه ښه يار دی، ښه يې مينه، وژل هسې شيون هسې**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ